امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۸ الی ۲۳ حوت ۱۴۰۳

## شماره نودو نهم

## له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې او د WCCSO موسسې ترمنځ د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدين ترابي په خپل کاری دفتر کې، په کابل کې د WCCSO موسسې له مسؤل نورمل نظرې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۸ نيټه سره وکتل او د ګډو همکاريو تفاهمنامه يې ورسره لاسليک کړه.

ترابي صاحب په دې کتنه کې، د شه راغلاست ويلو ترڅنګ ټينګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره همېشه د مرسته رسوونکو موسيسو سره همکاری کوی، څکه د دوی کړنې د پېښو د مديريت په هره برخه کې د هېواد د وګړو په ګټه دی...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړيوال سازمان (WFP) ترمنځ د ګډو همکاريو په اړه تخنيکی غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړيوال سازمان (WFP) ترمنځ د ګډو همکاريو په اړه درېيمه تخنيکی غونډه، د پلان او پاليسۍ د رئيس، ملا محمد جاويد عباس، د نړيوالو اړيکو رياست سرپرست...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکټېډ موسسې ترمنځ د ۶۹۶,۹۵۹ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي، د اکټېډ نړيوالې موسسې له رئيسې الکساندرا ايواس او د هغې له مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۱ نيټه په خپل کاری دفتر کې وکتل...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او د افغانستان لپاره د ناروې کميټې تر منځ د ۵۰۷۱۳۳ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملانورالدين ترابي د ناروې کميټې معاون او د دفتر سرپرست احسان فقيری، د بشرې مرستو مسؤل ذبيح الله رحمتی او د اړيکو مسؤل مجيب الله شيرزوی سره...

ادامه در صفحه ۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د WCCSO موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاری دفتر کې، په کابل کې د WCCSO موسسې له مسؤل نورمل نظری د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۸ نیټه سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهمنامه یې ورسره لاسلیک کړه.

ترابي صاحب په دې کتنه کې، د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره همېشه د مرسته رسوونکو موسیسو سره همکاری کوی، ځکه د دوی کړنې د پېښو د مدیریت په هره برخه کې د هېواد د وګړو په ګټه دی.

وروسته د WCCSO موسسې استازی د یادې پروژې په اړه د معلوماتو د ورکولو په جریان کې و ویل، دغه پروګرام به د خوړو نړیوال سازمان په مالی مرسته ترسره شی. همدارنګه د دې پروژې په چوکاټ کې د WCCSO موسسه د تخنیکی، اداری او سروې چارې په غاړه لری او په نورستان ولایت کې به د ۱۹,۸۳۶ ډالرو په لګښت په بیړنیو حالاتو کې پلې کېږی.

د دې تفاهمنامې پر بنسټ، به د خوراک نړیوال سازمان په مالی مرسته په بیړنیو حالاتو کې د WCCSO موسسې سره په همغږۍ د مرستو بستې چې ۱۰۰ کیلو اوړو، ۱۲.۵ کیلو دال نخود، ۹.۱ کیلو غوړی او یوه کیلو مالګه پکې شتون لری د نورستان ولایت ۱۶۰۰ کورنیو ته وویشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړیوال سازمان (WFP) ترمنځ د ګډو همکاریو په اړه تخنیکی غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د خوړو نړیوال سازمان (WFP) ترمنځ د ګډو همکاریو په اړه دربیمه تخنیکی غونډه، د پلان او پالیسۍ د رئیس، ملا محمد جاوید عباس، د نړیوالو اړیکو ریاست سرپرست، برهان‌الدین خان، د مقام دفتر د انسجام او همغږۍ آمر، عبدالرب مبارک، د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمر، محمد یوسف حماد، د پروګرام مسؤله، عادله خالد، د خوړو نړیوال پروګرام د اړیکو مسؤل، اون شیورت، د بیړنیو چارو مسؤل، منصف‌الله انوری، د GIS برخې مسؤل، موتاز او د دې ادارې د یو شمېر آمرینو په شتون کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۰ نیټه ترسره شوه.

په دې غونډه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې استازو د ستراتیژیک پلان، فعالیتونو او نورو تخنیکی موضوعاتو په اړه بحث وکړ او د پروګرامونو ترسره کولو په برخه کې یې د لا زیاتې همغږۍ او همکاریو پر اړتیا ټینګار وکړ.

همداراز، د خوړو نړیوال سازمان استازو د یاد سازمان د ژمنې یادونه وکړه، چې د زیانمنو شویو کورنیو سره د مرستو د چټکتیا او د ښه خدمتونو وړاندې کولو لپاره ګډ کار ته ژمن دی. هغوی ژمنه وکړه چې د تجهیزاتو برابرولو او د روزنیزو پروګرامونو ترسره کولو لپاره به له نورو موسسو او تمویلونکو سره خبرې وکړی.

د غونډې په دوام کې، موتاز، د خوړو نړیوال پروګرام د GIS برخې مسؤل، د یاد سازمان د نویو مرستو د پروګرام په اړه پرزنټیشن وړاندې کړ.

په پای کې، دواړو خواوو د ګډو همکاریو د لا پیاوړتیا، د فعالیتونو په ترسره کولو کې د همغږۍ زیاتوالی او د طبیعی پېښو او د کاری سیمو په اړه د معلوماتو د تبادلې پر اړتیا ټینګار وکړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د اکټيډ موسسې ترمنځ د ۶۹۶,۹۵۹ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د اکټيډ نړیوالې موسسې له رئيسي الکساندرا ایواس او د هغې له مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۱ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسليک کړه.

په دې ناسته کې، محترم ترابی صاحب د ښه راغلاست ترڅنګ ټینګار وکړ چې د دې اداري اساسی موخه د خلکو لپاره د غوره خدماتو وړاندې کول او د زیانمنو کسانو لپاره د زیاتو مرستو رسول ده. نوموړی زیاته کړه چې دوی نه یوازې د مرستندویه مؤسسو ملاتړ کوی، بلکې هغوی هڅوی تر څو د زیانمنو کسانو سره د مرستو او هغوی د ستونزو د حل لپاره لا زیاته بودجه ځانګړې کړی. همداراز، نوموړی د مرستو د شفافیت او د ویش بهیر د چټکتیا پر اړتیا ټینګار وکړ، تر څو مرستې مستحقو کسانو ته په سمه توګه ورسیږی.

ورپسې، د اکټيد نړيوالې موسسې رئيسې، الکساندرا ایواس، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له سرپرست څخه د همکاريو له امله مننه وکړه او د دې پروژې په اړه يې توضيحات وړاندې کړل. نوموړې وويل چې دغه پروژه د AHF دفتر په مالی ملاتړ او د اکټيډ موسسې لخوا د ۶۹۶,۹۵۹ ډالرو په ارزښت پلی کېږی. په دې مرستو کې به، د بدخشان ولايت په څلورو ولسواليو کې د سيلابونو او نورو طبیعی پېښو له امله زیانمنو شویو ۲,۹۷۲ کورنیو ته نغدی مرستې وویشل شی.

د یادونې وړ ده، چې د دې تفاهم نامې له مخې به، د ۶۹۶,۹۵۹ ډالرو په ارزښت، د بدخشان ولايت د ارګو، درایيم، یاوان او کوهستان ولسواليو ۲,۹۷۲ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې وېشل کېږی، چې هرې کورنۍ ته به ۱۷۰ ډالره په څلورو قسطونو کې وویشل شی.

## له پيښو سره د مبارزې امادګۍ ملي اداري او د افغانستان لپاره د ناروې کميټې تر منځ د ۵۰۷۱۳۳ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی د ناروې کمیټې معاون او د دفتر سرپرست احسان فقیری، د بشری مرستو مسؤل ذبیح الله رحمتی او د اړیکو مسؤل مجیب الله شیرزوی سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۱ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی اداري سرپرست ترابی صاحب تر هرڅه مخکی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او خوښی یې څرګنده کړه چې مؤسیسات باید په کارو کی چټکتیا راولی ترڅو خلک پر وخت ورڅخه برخمن سی.

ترابی صاحب زیاته کړل چې مونږ هڅه کوو چې ژر تر ژره د مؤسیساتو کارونه خلاص کړو ترڅو افغان ولس یې د همکاريو څخه برخمن سی او د ټولو موسیساتو سره د دولت په اصولو او چوکاټ کی پوره همکاری کوو.

د ناروې کمیټې سرپرست رئیس احسان فقیری  وویل چې خوشاله یو چې مونږ ته مو د ملاقات وخت راکړ او خوښی یې څرګنده کړه چې په کارو کی مو هیڅ خنډ او ځنډ نه دی راغلی همدارنګه یې  وویل چې مونږ په بیلابیلو برخو کی افغان ولس ته خدمت کوو او په ۱۲ ولایتونو کی پر پروژو کار شروع دی.

د یادونې وړ ده یاده تفاهم نامه چې ۵۰۷۱۳۳ (پنځه لکه اوه زره یو سل دری دیرش) ډالرو په ارزښت لاسلیک شوه چې د دغه تفاهم نامې په اساس د دایکندی ولایت په درو ولسوالیو کی ۲۱۸۳ بې وزله او بې سرپرسته کورنیو ته نغدی مرستی ورکول کیږی چې دا مرسته د څلورو میاشتو په جریان کی په (څلور پړاوونو) کی ورکول کیږی چې د دایکندی ولایت د خدیر په ولسوالۍ کی (۸۲۲ کورنیو)، د سنګ تخت په ولسوالۍ کی (۶۳۸ کورنیو) او د شهرستان په ولسوالۍ کی (۷۲۳ کورنیو)  ته ویشل کېږی.

په دې مرستو کی هره مستحقه کورنۍ ته په هر پړاو کی ۴۲.۵ امریکایی ډالره (د ورځنی افغانیو نرخ مطابق) د څلورو پړاوونو لپاره ورکول کیږی چې د څلورو میاشتو په اوږدو کې  هری کورنۍ ته ټوټل ۱۷۰ ډالره ورکول کیږی چې د خوراکی توکو د پیرلو او برابرولو لپاره به وی

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د CRS موسسې ترمنځ د ۲۳۷,۰۰۰ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی، د کاتولیک نړیوالې خیریه مؤسسې (CRS) له رئیسې مارګریت وودز او د هغې له مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره یې لاسلیک کړه.
په دې ناسته کې ترابی صاحب ټینګار وکړ چې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره تل له مرستندویو موسسو سره همکاری کوی، ځکه چې د دوی فعالیتونه د پیښو مدیریت او د هېوادوالو د خیر لپاره دی.
له بلې خوا، د کاتولیک نړیوالې خیریه مؤسسې (CRS) رئیسې مارګریت وودز، له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له سرپرست څخه مننه وکړه او څرګنده یې کړه چې CRS موسسې له ۱۳۸۱ کال راهیسې د بیړنیو مرستو، د اوبو رسولو د شبکو پراختیا او د کرنې په برخه کې مهم فعالیتونه ترسره کړی دی.
میرمن وودز د خپلې نوې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې دا پروژه د UN-OCHA لخوا تمویل شوې او د CRS موسسې له لارې به د ۲۳۷,۰۰۰ ډالرو په ارزښت په تولیزې بودجې د هرات ولایت اړمنو ته وېشل کېږی.
د دې تفاهم‌نامې له مخې، د ۲۳۷,۰۰۰ ډالرو په تولیز ارزښت به د هرات ولایت په ګلران ولسوالۍ کې ۵۴۵ کورنیو ته ۷۴ ډالره د ژمنیو جامو پیرلو لپاره، ۲۰۰ ډالره د سون توکو پیرلو لپاره او ۵ تختې (یوه دوه کسیزه او څلور یو کسیزه) کمپلې د ۵۷ ډالرو په ارزښت وویشل شی.

# له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست دجینوا کال مؤسیسې د راغلي پلاوی سره وکتل



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست په افغانستان کی جینوا کال مؤسیسې د بشری خدمتونو دلاسرسی او اړیکو سلاکار نجیب الله سلیمان خیل او دپروګرام همږغی کونکی حکمت الله ځدران او داړیکو دمسؤل سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.
له پیښو سره د مبارزې آما ګی ملی اداري سرپرست دجینوا کال مؤسیسې راغلی پلاوی ته تر شه راغلاست ورسته دیادی اداري پر فعالیتونو او پرمختګونو بحث وکړ.
ترابی صاحب همدارازد جینوا کال مؤسیسې راغلی پلاوی ته د هر ډول همکاریو ډاډ ورکړ او وویل چې په ګډه د پیښو پر وړاندی همکاری سره کوو.
د جینوا کال مؤسیسې د بشری خدمتونو د لاسرسی او اړیکو سلاکار نجیب الله سلیمان خیل له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري دسرپرست څخه مننه وکړه او خوښی څرګنده کړه موږ ته مو د ملاقات وخت راکړ او وویل چې جینوا کال مؤسیسې دبیلابیلو ادارو کسانو ته ورکشاپونه جوړ کړی دی.
او اوس غواړو چې له پیښو سره مبارزې آمادګۍ ملی اداري مرکزی او ولایتی مسؤلینو ته هم د رمضان میاشتی په ورستۍ اونۍ کی شاوخوا ۲ ورځنۍ ورکشاپ ورکړو.
ترابی صاحب دغونډې په ورستیو کی وویل چې موږ به دیو طرزالعمل مطابق د خپلو ولایتی او مرکزی مسؤلینو لیست ترتیب کړو او په یاد ورکشاپ کی به ګډون وکړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري اوونیزه اداری غونډه د دې اداري د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې اداري په انګړ کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نیټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۴۰ مستحقو کورنیو ته نغدی او ژمنۍ مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د OHW موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۸ نیټه ۳۴۰ مستحقو کورنیو ته نغدی او ژمنۍ مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۴,۶۹۴ نغدی ۵تختې(یوه تخته دوه کسیزه او 4 تختې یو کسیزه) کمپلې د ۵,۴۳۷ افغانیو په ارزښت ووېشل شوې, چې ټولټال ۴,۹۹۵,۹۶۰ (۴) میلیونه, ۹۹۵ زره او ۹۶۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

## د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د اکتیډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکتیډ موسسې په تخنیکی همکاری او د ECCO موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۸ نیټه د یاد ولایت په خواجه غار ولسوالی کې ۵۰ کورنیو ته د تشنابونو د ترمیم او جوړولو لپاره نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې ۲۸ کورنیو هرې یوې ته د تشنابونو د ترمیم لپاره د لومړی قسط ۵۲۲۰ افغانۍ او ۲۲ کورنیو هرې یوې ته د تشناب د وسایلو پیرلو لپاره ۴۰۷۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## د پکتیا ولایت ګرده څېرۍ ولسوالۍ ته د ماین پاکۍ او د سروې تخنیکی ټیم ولیږدول شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی په لارښوونه، د ګرده څېرۍ ولسوالۍ د خلکو په غوښتنه د ماین پاکۍ او د سروې تخنیکی ټیم یادې ولسوالۍ ته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۸ نیټه ولیږدول شو.

ویل کېږي چې د دې سیمې په شنو سیمو کې د پام وړ چاودیدونکی توکی شتون لري چې د خلکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی و. په همدې موخه، د ماین پاکۍ ټیمونه د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ د رئیس قاری نورالدین رستم‌خېل او د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس مولوی نثار احمد نجات، سره یوځای سیمې ته رسېدلی او د ماینونو د پاکولو عملیات یې پیل کړی دی.

د یادونې وړ ده چې دا مهال یو تخنیکی ټیم د سیمې د پاکولو په چارو بوخت دی، او ډېر ژر به نور ټیمونه هم ور ورسېږي، ترڅو دا بهیر په لنډ ممکن وخت کې بشپړ شي.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۶۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست په لارښوونه، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۶۰ کورنیو ته چې د یاد ولایت په بکواه ولسوالۍ کې د وروستیو سېلابونو او طوفانونو له امله په بشپړه او نیمه توګه زیانمنې شوی وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۸ نیټه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.



په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې ۱۰۶۰ کورنیو ته چې په نیمه توګه زیانمنې شوی وې، هرې یوې ته ۳ تختې کمپلې، ۲۵ کیلو وریجې او ۱۰ عدده صابون ووېشل شول او ۱۰۰ نورو کورنیو چې په بشپړه توګه زیانمنې شوی وې، هرې یوې ۱ باب خیمه، ۵۰ کیلو وریجې، ۳ تختې کمپلې او ۱۰ عدده صابون ترلاسه کړل.

## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د واورې ښویېدنې او د ډبرې نړېدو له امله د شهیدانو ورثه او ټپیانو ته خوراکی، غیرخوراکی او نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په لارښوونه، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لورې، د تېرو اوو ورځو په ترڅ کې په دره، حصه اول او پریان ولسوالیو کې د واورې ښویېدنې او (سنګغیل) ډبرې نړېدو له امله د ۷ شهیدانو ورثه او ۵ ټپیانو ته خوراکی، غیرخوراکی او نغدی مرستې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۸ نیټه ووېشل شوې.

په دې پروسه کې، د مسوولینو په شتون کې، د ۷ شهیدانو هر وارث ته ۲۰,۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې او ۲ بورۍ ۵۰ کیلویی اوړه، ۲ بورۍ ۲۵ کیلویی وریجې، ۶ تخته کمپلې، د ژمی جامو یوه بسته، د حفظ الصحې یوه بسته، یو پایه چیرکټ، او د صابون یوه کارتن ووېشل شول. همداراز، ۵ ټپیانو هر یو ته ۱۰,۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ورکړل شوې.

د یادونې وړ ده چې د ولایت مقام له لورې هم، د حصه‌اول ولسوالۍ د واورې ښویېدنې له امله د ۲ شهیدانو ورثه، هر یو ته ۲۰,۰۰۰ افغانۍ نغدی مرسته ورکړل شوه.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو پېښو له امله ۱۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM, WFP او د UNICEF سازمانونو سره په همکارۍ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۸ نیټه د یاد ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې د وروستیو طبیعي پېښو له امله ۱۴ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍته د IOM سازمان لخوا د پخلنځي توکی, درې تختې کمپلې او د کار وسایل, او د WFP سازمان لخوا هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه, ۱۸.۲ لیټره غوړي, ۲۵ کیلو دال, ۲ کیلو مالګه, ۲ کیلو بسکوټ, د ماشومانو او مېندو لپاره مغذی مواد او د UNICEF سازمان لخوا هرې کورنۍ ته یو هایجن کېټ ووېشل شول.

## د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱ زیانمنو کورنیو ته نغدی او خوراکي مرستې ووېشلې




له IOM او WFP سازمانو سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ, د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادو سازمانونو په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۹ نیټه د وروستیو پېښو له امله ۳۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د IOM سازمان لخوا ۹,۵۰۰ افغانۍ او د WFP سازمان لخوا ۲۰۰ کیلو اوړه, ۱۸.۲ کیلو غوړي, ۲۵ کیلو دال, مالګه او د ماشومانو لپاره ۲.۵ کیلو مغذی مواد LNS ووېشل شول.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۴ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د UN-Habitat موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۹ نیټه د کابل ښار د ۱۷ مې ناحیې اړوند ۹۴ کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوی وې, له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۳۰۰ ډالر نغدی پیسې ووېشل شوې, چې ټولټال ۲۸,۲۰۰ ډالر د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړی شوی وو.

## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۵ زیانمنو کورنیو ته نغدی او غیرنغدی مرستې ووېشلې



د IOM, WFP او د UNICEF سازمانونو سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ, د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادو سازمانونو په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۹ نیټه د یاد ولایت په اندړ, آب بند, مقر, قره باغ او ګیلان ولسوالیو او مرکز کې د طبیعی پېښو له امله ۵۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی, غیرخوراکی او نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍکې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د IOM لخوا ۹,۵۰۰ افغانۍ د WFP لخوا هرې کورنۍ ته 200 کیلو اوړه, ۲۵ دال, ۱۸.۲ کیلو غوړی, ۲ کیلو مالګه, ۲.۱ کیلو بسکوټ, ۳.۴ کیلو INS او ۴.۵ کیلو WSB او د UNICEF لخوا هرې کورنۍ ته یوه روغتیایی بسته ووېشل شول.

د یادونې وړ ده, چې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یاد سازمانونو څخه مننه او قدردانی وکړه.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په همکارۍ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۹ نیټه د یاد ولایت په مرکز اسعدآباد او بېلابېلو ولسوالیو کې د وروستیو طبیعی پېښو له امله 10 زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍته د پخلنځی یو کېټ, د کمپلو یو کېټ, یو هایجن کېټ او یو د سولر لیټ کېټ ووېشل شول.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د غنی خېل ولسوالۍ خلکو ته د ژغورنې وسایل ووېشل



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالی همکارۍ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۹ نیټه د یاد ولایت غنی خېل ولسوالۍ ویاله شاه خېل او مامندو کلیو اړوند د کلیو مشرانو ته د بېړنیو حالاتو پر وړاندې د چمتووالی لپاره په دوو کانټینرو کې د ژغورنې وسایل ووېشل.

د یادونې وړ ده چې په دې وسایلو کې ۶۸ قلمه لومړنی درمل او د بېړنیو حالاتو پر مهال کارېدونکی اړین وسایل شامل دی.

ورته مهال, د کلیو مشرانو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او IOM سازمان څخه قدردانی وکړه, او دا وسایل یې اړین وبالل همدرانګه ویې وېل چې له دی وسایلو څخه به د بېړنیو حالاتو پر مهال ګټه واخلی.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو پېښو له امله ۴۷ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM, WFP, Save the children او د UNFPA سازمانونو سره په همکارۍ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۹ نیټه د یاد ولایت په نیش او شاولیکوټ ولسوالیو او مرکز کې وروستیو طبیعي پېښو له امله ۴۷ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ‌ته د IOM سازمان لخوا پخلنځی توکی, درې تختې کمپلې، درې عدده سولری څراغونه، یو پلاستیکی سطل، یوې کورنۍ ته خیمه او د کار وسایل او د WFP سازمان لخوا هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه, ۲۰ لیتره غوړي, ۲۵ کیلو دال, ۲ کیلو مالګه, ۶۰ پاکټه د ماشومانو او میندو لپاره مغذي مواد او د UNFPA او SAVE THE CHIL-DREN سازمانونو لخوا هرې کورنۍ ته یو حفظ الصحه کېټ ووېشل شول.

## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۵ زیانمنو کورنیو ته نغدي او غیرنغدي مرستې ووېشلې




د IOM, WFP او د UNICEF سازمانونو سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ, د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادو سازمانونو په مالي ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۹ نیټه د یاد ولایت په اندړ, آب بند, مقر, قره باغ او ګیلان ولسوالیو او مرکز کې د طبیعي پېښو له امله ۵۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي, غیرخوراکي او نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ‌کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د IOM لخوا ۹,۵۰۰ افغانۍ د WFP لخوا هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه, ۲۵ دال, ۱۸.۲ کیلو غوړي, ۲ کیلو مالګه, ۲.۱ کیلو بسکوټ, ۳.۴ کیلو INS او ۴.۵ کیلو WSB او د UNICEF لخوا هرې کورنۍ ته یوه روغتیایي بسته ووېشل شول.

د یادونې وړ ده, چې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یاد سازمانونو څخه مننه او قدرداني وکړه.

## د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۰ زیانمنونکو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز کې د ژمی سړې هوا له امله ۴۰ زیانمنونکو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۹ نیټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۵ کیلو وریجې او یوه روغتیایي بسته او همدرانګه ۳ نورو کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمېسیون د موظف پلاوی د سروې او ارزونې وروسته, په پیرزاده, اسفنده, غیب قلندر, قلعه میری, پشتون آبادی, علی لالا, روضه, شهر کهنه, قلعه نو, شهرک مهاجرین, مغلان, سرګنج کلیو او نورو سیمو کې د وروستیو بارانونو او واورو له امله ۶۰ زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۰ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د موظف پلاوی په شتون کې هرې کورنۍته ۱۰۰ کیلو غنم, ۲۵ کیلو وریجې او ۳ تختې کمپلې ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده, چې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د قدردانۍ ترڅنګ په اوسنی شرایطو کې دا مرستې حیاتي وبللې.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کوټ ولسوالۍ خلکو ته د ژغورنې وسایل ووېشل



د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ, د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM سازمان په مالي همکارۍ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۰ نېټه د یاد ولایت کوټ ولسوالۍ فتح پور, بای خېل او قلعه جات کلیو اړوند د کلیو مشرانو ته د بېړنیو حالاتو پر وړاندې د چمتووالي لپاره په دوو کانټېنرو کې د ژغورنې وسایل ووېشل.

د یادونې وړ ده چې په دې کانټېنرونو کې ۶۸ قلمه لومړنۍ مرستې او د بېړنیو حالاتو پر مهال کارېدونکې اړین وسایل شامل دي.

ورته مهال, د کلیو مشرانو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او IOM سازمان څخه قدرداني وکړه, او دا وسایل یې اړین وبالل همدرانګه ویې ویل چې له دې وسایلو څخه به د بېړنیو حالاتو پر مهال ګټه واخلی.

## په خوست ولایت کې د ۴۰۰ مترو په اوږدوالي د ویالو جوړولو کار پیل شو



د خوست ولایت صبری ولسوالۍ د مکتب بازار په سیمه کې د ۴۰۰ مترو په اوږدوالی په اساسی توګه د ویالو جوړولو کار د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۱ نېټه پیل شو.

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د فرمان له مخې, په ټول هېواد کې د طبیعی پېښو د خطرونو کمولو په موخه، د هر ولایت لپاره د یو میلیون افغانیو بودجه ځانګړې شوې ده. دا کوچنۍ خو اړینې پروژې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له لوری پلې کېږی.

یاده پروژه، د ۱,۳۱۶,۰۰۰ افغانیو په لګښت د خوست ولایت مقام سره په بشپړې همغږۍله پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لخوا پلې کېږی.

د دې پروژې پلې کېدل، د لسګونو څوانانو لپاره د کار زمینې برابرولو ترڅنګ د سیلابی او بارانی اوبو د مهارولو او د بازار د پاکوالی او د سیمې د ښکلا لپاره مهم ګام دی.

## د شینواری ولسوالۍ په باریکی قول هیر کلي کې د سیند لارې د پاکولو چارې پیل شوې



د پروان ولایت شینواری ولسوالۍ په باریکی قول هیر کلی کې د سختو سیلابونو له امله، د سیند لارې بدلون موندلی و، چې هستوګنیز کورونه، کرنیزې ځمکې او د برېښنا شبکې یې له جدي ګواښ سره مخ کړې وې.
د لازمو ارزونو وروسته، یاده سیمه له پېښو سره د مبارزې ولایتی کمېټې د پلاوی له لوری سروې شوه.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه، د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د موظف پلاوی تر څارنې لاندې، او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس محترم مولوی عبدالعلیم افضلی او د سیمې د مشرانو په شتون کې، د سیند لارې د پاکولو چارې د اسکواټور په وسیله د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۱ نیټه پیل کړې.

## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو سېلابونو له امله د ۱۹ شهیدانو ورثه او ټپیانو ته نغدی مرستې ووېشلې

د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت مرکز لشکرګاه او ببلابېلو ولسوالیو اړوند ۱۹ کورنیو ته چې د وروستیو طبیعی پېښو له امله یې د کورنۍ غړی شهیدان او ټپیان شوی وو, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نیټه نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس الحاج مولوی جمعه خان مستقیم په شتون کې د ۱۲ تنه شهیدانو کورنیو هرې یوې ته ۲۰۰۰۰ شل زره افغانۍ او ۷ تنه ټپیانو هر یو ته ۱۰۰۰۰ لس زره افغانۍ ووېشل شوې.



## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ARCI موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوړو نړیوال سازمان په مالی ملاتړ او ARCI موسسې په تخنیکی همکارۍ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نیټه د یاد ولایت په مرکز اسعدآباد او ببلابېلو ولسوالیو کې د سېلابونو له امله ۵۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه، انرژی لرونکی چاکلېټ او WSB مواد ووېشل شول.
د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د خوړو نړیوال سازمان (WFP) څخه د دغو مرستو په پار مننه وکړه چې هغوی ته یې پر وخت دا مرستې ووېشلې.



## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۷ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې وویشلې



د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان(IOM)، د خوړو نړیوال سازمان(WFP)، د ملګرو ملتونو د نفوس وجهي صندوق(UNFPA) او د (UNICEF) سازمان په مالي همکارۍ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نیټه مرکز لښکرګاه، سنګین او مارجې ولسوالیو کې ۵۷ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس الحاج مولوی جمعه خان مستقیم او د یادو سازمانونو د استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو مالګه، ۱۸.۲ لیټره غوړی، د ماشومانو لپاره ۳ کیلو وچې شیدې، روغتیایی کیټونه، کمپلان، د پخلنځی توکی، د بیړنۍ سرپناه کیټونه، سولری څراغونه، پلاستیکی فرش او په مارجې ولسوالۍ کې هغو کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوی وو ۴ خېمې هم وویشل شوې.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۲ سېلاب ځپلو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نیټه د یاد ولایت په سرخ رود ولسوالۍ کې ۱۱۲ سېلاب ځپلو کورنیو ته د کورنیو د ترمیم لپاره نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته په دویم قسط کې له ۱۰،۵۰۰ نه تر ۱۹،۴۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال ۱،۶۵۸،۶۰۰ (۱ میلیون، ۶۵۸ زره او ۶۰۰) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۹ زیانمنو کورنیو ته نغدی او غیرخوراکی مرستې وویشلې




د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد سازمان په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نیټه د دې ولایت بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۳۹ زیانمنو کورنیو ته نغدی او غیرخوراکی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۹۰۰۰ افغانۍ او د ژمنۍ الیسې یو کېټ وویشل شول، چې ټولټال ۳۵۱۰۰۰ افغانۍکېږی د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې, همدارنګه ۹ هغو کورنیو ته چې کورونه یی په کلی ډول تخریب شوی وو یوه یوه خیمه هم ورکړل شوه.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۷۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوړو نړیوال سازمان په مالي ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نېټه د یاد ولایت په بکواه, فراه رود, بالابلوک, خاک سفید او ګلستان ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۸۷۴ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه, ۹.۱ کیلو غوړي, ۱۲.۵ کیلو دال او یو مالګه ووېشل شول.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت په برکي برک, چرخ او محمدآغه ولسوالیو کې د وروستیو ورښتونو له امله ۲۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نېټه له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمېسیون د پلاوی له لارې خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې په دریو ډلو کې په دې توګه چې په لومړۍ ډلې کې ۱۰ کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو وریجې, ۵۰ کیلو اوړه, ۱۰ لیټره غوړي, ۲ کیلو مُی, ۴ تختې کمپلې, ۳ پاکټه بسکوټ, یوه د یونیسف روغتیایي بسته او یو کارټن صابون, په دویمه ډله کې ۶ کورنیو هرې یوې ته ۵ لیټره غوړي, ۲ کیلو مُی, ۲ تختې کمپلې, یوه د یونیسف روغتیایي بسته او یو کارټن صابون, او په دریمه ډله کې ۹ کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو وریجې, ۲ کیلو مُی, یوه د یونیسف روغتیایي بسته او یو کارټن صابون ووېشل شول, همدارنګه ۲ کورنیو ته چې په زیاته کچه زیانمنې شوې وې هرې یوې ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه.
په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو مننه او خوښي څرګنده کړه.



## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۰۹ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د کوردایډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نېټه ۱۲۰۹ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ‌کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د څلورم قسط ۲,۸۴۰ افغانۍ ووېشل شوې, چې ټولټال ۳,۴۳۳,۶۵۰ (۳ میلیونه, ۴۳۳ زره او ۶۵۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت په خاک سفید او پشت رود ولسوالیو کې د طبیعي پېښو له امله ۱۷۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نیټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۵ کیلو وریجې, ۱۰ عدده صابون او ۳ تختې کمپلې ووېشل شوې.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۷ سیلاب ځپلو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۲ نیټه د دې ولایت د مرکز، نیش، شاولیکوټ او پنجوایي ولسوالیو اړوند ۴۷ سیلاب ځپلو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۹۹۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال ۴۶۵۳۰۰ (۴۶۵ زره او ۳۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM, UNICEF, AADA, WFP سازمانونو په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه د دې ولایت د مرکز قلات، میزانې، ارغنداب او شاجوی ولسوالیو اړوند ۹ اړمنو او زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له ګډې سروې وروسته، هرې کورنۍ ته پخلنځی ۱ کیټ، ۳ تختې کمپلې، ۲ عدده څراغونه، ۱ د ژمنۍ البسې کیټ، ۱ عدد فرش، د بېړنۍ سرپناه د ترمیم ۱ کیټ، یو هایجن کیټ، یو روغتیایي کیټ, ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۸ لیټره غوړي، ۲ کیلو مالګه، ۲۵ کیلو دال نخود، ۶ کیلو ښځینه مواد او ۳ کیلو د ماشومانو مواد وویشل شول.
د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست لخوا ۳ کورنیو هرې یوې ته ۱ باب خیمه هم وویشل شوه.



## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۱ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د کوردابډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه د ګوشته ولسوالۍ ۱۱۱ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د خلورم قسط ۲,۸۴۰ افغانۍ ووېشل شوې, چې تولټال ۳۱۵,۲۴۰ افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په مرکزی دفتر کې ۷۰۰ بېوزله کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشل شوې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه, د یادې ادارې په مرکزی دفتر کې د کابل ښار بېلابېلو ناحیو اړوند ۷۰۰ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشل شوې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه, ۲۵ کیلو وریجې, ۵ لیتره غوړی او ۱۰ کلچې صابون ووېشل شول.

## د نیمروز ولایت په خاشرود ولسوالۍ کې د درې پلچکونو د جوړولو کار پرانستل شو

د امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) د فرمان پر بنسټ، له پیښو سره دمبارزی امادګی ملی اداری لخوا د هیواد په ټولو ولایتونو کې د پېښو د خطرونو د کمولو لپاره، د هر ولایت لپاره د یو میلیون افغانۍ بودجه ځانګړې شوې ده. چې د دی ادارې لخوا پلی کیری.



د نیمروز ولایت له پېښو سره مبارزې د آمادګی ریاست په خاشرود ولسوالۍ کې د درې پایه پلچکونو د جوړولو کار د ۷۳۲,۰۰۰ افغانیو په ارزښت د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه پیل کړ.

په دې پرانسته کې، د نیمروز ولایت له پېښو سره مبارزې آمادګۍ رییس الحاج مولوی محمد قاسم محمد، یو شمېر سیمه ییزو مسؤلینو او د خاشرود ولسوالۍ د کلیو مشرانو ګډون درلود او د دې پلچکونو د جوړولو کار یې پیل کړ.

دا درې پایه پلچکونه د ۷۳۲,۰۰۰ افغانیو په ارزښت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی لخوا جوړیږی او د خاش، رزی افغانی او د دیوالک کلیو د خلکو لپاره زیات اهمیت لری.

ورته مهال خلک د اسلامی امارت له دی نیک ګام څخه خوښ دی او هرکلی یې وکړ.

## په کابل ولایت کې د نفت او ګازو په اداره کې په چاودېدونکو توکو د ککړو سیمو د سروې او پاکولو چارې بشپړې شوې



د کابل ولایت د نفت او ګازو شرکت ریاست، په بادام باغ او قوای مرکز سیمه کې د ساختمانی کارونو په جریان کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه یو شمېر چاودېدونکی توکی کشف کړل. له همدې امله، د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست څخه یې د یادو سیمو د پاکولو لپاره غوښتنه وکړه.

د دې غوښتنې له مخې، د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ رئیس قاری نورالدین رستم خیل د یاد ریاست د تخنیکی کارکوونکو او د نفت او ګازو امارتی شرکت مسئولینو سره، د سیمې د سروی او پاکولو چارې د DRC ماین پاکۍ موسسې د بېړنۍ ځواب وینې ټیم ته وسپارلې.

د یادونې وړ ده، چې دا ټیم مکلف شو چې سیمه وڅیړی او هغه سیمې چې اوس مهال د بیا رغونې په حالت کې دی، د هر ډول احتمالی خطرونو څخه پاکې کړی، ترڅو بشپړ امنیت ټینګ شی.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یونیسف سازمان په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه د یاد ولایت کې د وروستیو ورښتونو له امله ۲۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته یوه فاملی بسته، ۲ تختې کمپلې او یوه بسته ژمنۍ البسه ووېشل شوه.

## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM او WFP سازمانونو په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه د یاد ولایت په دهراوود ولسوالۍ کې د سېلابونو له امله ۳۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

دا مرستې د کډوالۍ نړیوال سازمان IOM او د خوړو نړیوال سازمان WFP په مالی ملاتړ او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همکاری ووېشل شوې.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ‌ریاست ۵۳ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ‌ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه ۵۳ کورنیو ته چې د یاد ولایت په اچین ولسوالیو کې د سیلابونو له امله زیانمنې شوی وې, له سروې وروسته نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې ۵۳ زیانمنو کورنیو ته د هغوی د کورونو د زیانمنتیا او اړتیاوو ته په کتو په دې توګه چې ۲۹ کورنیو هرې یوې ته ۲۶,۴۵۰ افغانۍ, ۲۳ کورنیو هرې یوې ته ۳۴,۷۵۰ افغانۍ او یوې کورنۍ ته ۱۱,۳۵۰ افغانۍ نغدی پیسې وویشل شوې, چې ټولټال ۱,۵۷۷,۶۶۰ (۱ میلیون, ۵۷۷ زره او ۶۶۰) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۵ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د Save the children موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه د یاد ولایت د غورک ولسوالی اړوند ۱۲۵ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ژمنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱۴,۷۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال ۱,۸۳۷,۵۰۰ (۱ میلیون ۸۳۷ زره او ۵۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۰۰ زیانمنونکو او اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د CWSA موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه د یکاولنګ ۲ ولسوالۍ ۹۰۰ زیانمنونکو او اړمنو کورنیو ته چې مخکې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ سروې او تثبیت شوی وې، نغدی مرستې وویشلې.

د یادونې ده چې، په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۸۶۰ افغانۍ وویشل شوې چې ټولټال ۲،۵۷۴،۰۰۰ (۲ میلیونه او ۵۷۴ زره) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

همدرانګه په پام کې ده چې په راتلونکې میاشت کې به هم یاد شمېر کورنیو ته د CWSA موسسې لخوا ژمنۍ نغدی مرستې وویشل شی.

# په لغمان ولایت کې له پېښو سره د مبارزې کمېټو ته د بېړنیو حالاتو پر مهال د چمتووالي تجهیزات وسپارل شول




د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نېټه د لغمان ولایت الینګار ولسوالۍ په سنګر هارون‌خېل کلی، د الیشنګ ولسوالۍ په سالاب منځ او بره‌کنده کلیو او همداراز د مرکز مهترلام اړوند په عمرزی دنده او قوال‌خېل کلیو کې په بېړنیو حالاتو کې د پېښو پر وړاندې د چمتووالی پنځه کمېټې جوړې شوی دی. یادې کمیټې د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالی او تخنیکی ملاتړ تأسیس شوی دی.

په مجموعی ډول، ۳۰ سړی او ۳۰ ښځې د دې کمیټو د غړو په توګه روزل شوی دی. هرې کمیټې ته یو ۱۰ فوټه کانټینر او ۶۹ قلمه اړین تجهیزات ورکړل شوی، چې د سیمې د مشرانو لخوا ترلاسه شول.

د دې مرستو موخه دا ده چې د طبیعی پېښو لکه سېلابونو، زلزلو او نورو پېښو پر مهال د ژغورنې امکانات برابر شي. دا چمتووالی ډېر ارزښت لری، ځکه چې په بېړنیو حالاتو کې د دغو تجهیزاتو له لارې ټیمونه کولای شی زیانمنو کسانو ته حیاتی مرستې ورسوی.

د یادونې وړ ده چې د ژغورنې وسایل د خلکو د ژوند ژغورنې لپاره اساسی رول لری او په بېړنیو شرایطو کې د زیانمنو کسانو د لومړنیو اړتیاوو پوره کولو ته اسانتیاوې برابروی.

# د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۳ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ARCI موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوړو نړیوال سازمان په مالی ملاتړ او د یادې موسسې په تخنیکی همکاری، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نېټه د یاد ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۵۳ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې.




په دې لړۍ کې له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه، انرژۍ لرونکی بسکوټ او WSB مواد ووېشل شول، د یادونې وړ ده چې دا مرستې د یوې میاشتې لپاره په پام کې نیول شوی وې او په پام کې ده چې راتلونکې میاشت هم یادو کورنیو ته د یوې میاشتې لپاره دا مرستې ووېشل شي.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د پچیراګام ولسوالۍ قومي مشرانو ته د بېړنیو حالاتو پر مهال د چمتووالي تجهیزات وویشل



د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د یاد سازمان په مالی همکارۍ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۳ نیټه د یاد ولایت پچیراګام ولسوالۍ د سیدخېل او زمرخېل کلیو مشرانو ته په دوو کانتینرونو کې په بېړنیو حالاتو کې د پېښو پر وړاندې د چمتووالی لپاره د ژغورنې تجهیزات وویشل.

په دې کانتینرونو کې ۶۸ قلمه اړین تجهیزات شامل دی، چې د سیمې د مشرانو لخوا ترلاسه شول.

د دې مرستو موخه دا ده چې د طبیعي پېښو لکه سېلابونو، زلزلو او نورو پېښو پر مهال د ژغورنې امکانات برابر شي. دا چمتووالی ډېر ارزښت لری، ځکه چې په بیړنیو حالاتو کې د دغو تجهیزاتو له لارې ټیمونه کولای شی زیانمنو کسانو ته حیاتی مرستې ورسوی.

د یادونې وړ ده چې د ژغورنې وسایل د خلکو د ژوند ژغورنې لپاره اساسی رول لری او په بېړنیو شرایطو کې د زیانمنو کسانو د لومړنیو اړتیاوو پوره کولو ته اسانتیاوې برابروی.

## د ننګرهار ولایت په بټې کوټ ولسوالۍ کې د سېلابونو د خطرونو کمولو د ګبیونی دیوالونو جوړولو د درېیو پروژو کار پیل شو



د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ, د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد سازمان په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱۴ نیټه د یاد ولایت په بټې کوټ ولسوالۍ کې د سېلابونو د خطرونو کمولو د درېیو ودانیزو پروژو جوړولو کار پیل کړ.

د یادونې وړ ده, چې د دی ډول د ګبیونی دیوالونو پروژو مجموعی اوږدوالی ۵۲۳ متره دی, دا پروژه به په ۴۵ ورځو کې بشپړه او ګټې اخیستنې وسپارل شي.

د یادونې ده, چې د دې پروژې د پلی کېدو په ترڅ کې لسګونه ماهرو او غیرماهرو کاریګرو ته د کار زمینه برابره شوې چې د سیمې د اقتصادی ودې لامل به شي.

همدارنګه د دې پروژو په بشپړېدو سره به سلګونه جریبه کرنیزې ځمکې او هستوګنیز کورونه د سېلابونو له خطرونو خوندی پاتې شی او د سیمې اوسېدونکو ته به په دوامداره توګه امنیت او د اقتصادی ودې زمینه برابره شی.

## عامه پیغامونه :

24. د غم ځپلو لاسنیوی وکړئ چې الله ج یې د قیامت په ورځ عوضونه درکړي

25. مخکې له دې چې تاسو له ډېر ځاني او مالي زيان سره مخ شی، په کم لګښت د خطرونو مخنیوی وکړئ.

26. څوک چې په دې دنیا کې یو څوک خوشحاله کړي، الله ج به هغه د قیامت په ورځ خوشحاله او خندوي (الحدیث)